امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



هفته نامه

# مدیریت حوادث

۴ الی ۹ دلو ۱۴۰۴

## شماره یکصدو چهلم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د EPTDO مؤسسې له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د EPTDO مؤسسې له رئیس عبدالهادي اچکزي، د پروژو له مدیر خبیب احمد کاکړ، د پروژې له مرستیال صدیق‌الله صدیقي او د یادې مؤسسې د اړیکو له مدیر حمیدالله ابراهیم سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۶ نېټه وکتل.

محترم ترابي صاحب له مؤسسو سره دوامدارې اړیکې درلودل د دې ادارې لپاره یو نیک او مهم ګام وباله او ویې ویل چې  ل د نوي میلادي کال  لپاره...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې عمومي رئیس د کډوالۍ نړیوال سازمان له مسؤلینو سره وکتل او پر ۹۴ وقایوي پروژو هوکړه وشوه



له پېښو سره  د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې عمومي رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) د وقایوي ساختماني پروژو له مسؤل حامد برهان او د یاد سازمان ...

ادامه در صفحه ۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د NPA نړیوالې مؤسسې له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې په افغانستان کې د NPA نړیوالې مؤسسې له رئیس ښاغلي رسل، د ناروې د دفتر له مسؤلینو قاسم هاشمي...

ادامه در صفحه۴

## د پېښو چارو د انسجام معین د کاپیسا ولایت له والي سره وکتل او د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د څارنې او کارکوونکو ته د لارښود بهیر یې پیل کړ

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د انسجام معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د فني او تخنیکي پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د خپلو رسمي سفرونو په لړ کې...

ادامه در صفحه ۳

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د EPTDO مؤسسې له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د EPTDO مؤسسې له رئیس عبدالهادي اچکزي، د پروژو له مدیر خبیب احمد کاکړ، د پروژې له مرستیال صدیق‌الله صدیقي او د یادې مؤسسې د اړیکو له مدیر حمیدالله ابراهیم سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۶ نېټه وکتل.

محترم ترابي صاحب له مؤسسو سره دوامدارې اړیکې درلودل د دې ادارې لپاره یو نیک او مهم ګام وباله او ویې ویل چې ل د نوي میلادي کال لپاره خپلې اړتیاوې او لومړیتوبونه، چې په اصل کې د خلکو اساسي اړتیاوې دي، ترتیب کړي دي، تر څو مؤسسې وکولای شي دا اړتیاوې د تمویل کوونکو لپاره د خپلو لومړنیو طرحو په چوکاټ کې وړاندې کړي. نوموړي زیاته کړه چې له یوې خوا باید مرستې د خلکو له واقعي اړتیاوو سره سمون ولري او له بلې خوا ځانګړې شوې بودجه په خپل مناسب ځای کې ولګول شي.

نوموړي همدارنګه وویل، چې که څه هم خوراکي او غیرخوراکي مرستې مهمې دي، خو بنسټیزې پروژې د دې ادارې د کاري لومړیتوبونو په سر کې شتون لري، ځکه دا ډول پروژې کولای شي د پېښو له امله د زیاتو ویجاړیو مخه ونیسي.

په همدې حال کې، د EPTDO مؤسسې رئیس عبدالهادي اچکزي د یادې مؤسسې د فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې یاده مؤسسه تر ډېره د چاپېریال ساتنې او اقلیمي بدلونونو په برخه کې فعالیت کوي؛ خو په ځینو مواردو کې یې د پېښو د مدیریت په برخه کې هم فعالیتونه ترسره کړي دي. هغه همدارنګه زیاته کړه چې د پروژو د طرحو پر مهال د اړوند سکتور لومړیتوبونه، شفافیت او د ټولنې عیني واقعیتونه په پام کې نیسي او د نړیوالو کنفرانسونو پر مهال د افغانستان ریښتنی وضعیت له تمویل کوونکو سره شریکوي او د هېواد د خلکو په ګټه د لا زیاتو بودجو د جلبولو لپاره هڅې کوي.

ښاغلي اچکزي په پای کې وویل چې هڅه به وکړي تر څو د یادې ادارې له لوري شریک شوی د لومړیتوبونو او اړتیاوو لړلیک د پروژو په لومړنیو طرحو کې د تمویل کوونکو لپاره په پام کې ونیسي.

# د پېښو چارو د انسجام معین د کاپیسا ولایت له والي سره وکتل او د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د څارنې او کارکوونکو ته د لارښود بهیر یې پیل کړ

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د انسجام معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د فني او تخنیکي پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د خپلو رسمي سفرونو په لړ کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کړنو د ارزونې، څېړنې او لارښودنې په موخه، د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۵ نېټه کاپیسا ولایت ته ورسېد.

یاد سفر په داسې حال کې ترسره شو، چې د پېښو چارو د انسجام معین د اسلامي امارت د فتحې (د زمري ۲۴مې ۱۴۰۰لمریز کال) څخه تر دې مهال پورې، د لغمان، نورستان، کنړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکندي، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزني، زابل، کندهار، اروزګان، هلمند، نیمروز، فراه، هرات، بادغیس، فاریاب، سرپل، جوزجان، بلخ، سمنګان، کندز، بدخشان، تخار، بغلان او پنجشیر ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو له کاري بهیر څخه په پرله پسې ډول او له مهال وېش سره سم څارنه کړې ده.

د دې سفر په پیل کې، د پېښو چارو د انسجام معین د کاپیسا ولایت له والي محترم قاري احسان الله بریال سره، د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د رئیس محترم الحاج مولوي محمد صابر احمد او ورسره مل پلاوي په شتون کې وکتل او خبرې یې وکړې.

ناسته د قرآن عظیم‌الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه.

د پېښو چارو د انسجام معین د خپل سفر موخه د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د عمومي وضعیت ارزونه، د اسلامي امارت د عالي مقام د فرامینو، احکامو او هدایاتو د پلي کېدو څارنه، د مالي او اداري چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د پلي کولو څېړنه، د وقایوي، بېړنیو او انکشافي پروژو ارزونه، د بشري مرستو (خوراکي، غیرخوراکي، نغدي او نورو توکو) د وېش د بهیر تعقیب، د ماین‌پاکۍ چارې، نشراتي فعالیتونه او همدارنګه د ستونزو او ورانديزونو اورېدل یاده کړه.

نوموړي ټینګار وکړ، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره د خپلو قانوني صلاحیتونو او مسؤلیتونو په چوکاټ کې، د وقایوي پروژو د پلي کېدو، د طبیعي پېښو له امله زیانمنو شویو کسانو ته د بېړنیو مرستو، د خطرونو د مدیریت او د ټولنو د زیان منښې د کمولو په برخه کې هر اړخیزې همکارۍ ته ژمنه ده.

محترم حاجي وارث صاحب، همدارنګه د طبیعي پېښو له امله زیانمنو شویو کورنیو ته د بشري مرستو د شفاف، عادلانه او د کره سروې پر بنسټ د وېش پر ارزښت ټینګار وکړ. هغه زیاته کړه، چې د کارکوونکو د کاري بهیر د څارنې تر څنګ، د هغوی د مسلکي ظرفیت د لوړولو لپاره لازمي لارښوونې وړاندې کېږي او په اړوندو برخو کې روزنیز سمینارونه تنظیم کېږي.

ورپسې، د کاپیسا والي، محترم قاري احسان الله بریال ګډونوالو ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ زیاته کړه، چې دا ولایت په پراخه کچه د طبیعي پېښو له امله زیانمن شوی دی او هر کال د دې ولایت اوسېدونکو ته درانه ځاني او مالي زیانونه اړوي.

نوموړي د طبیعي پېښو پر وړاندې د کاپیسا ولایت د زیانمنتیا کچې ته په اشارې سره وویل چې زیاتو مرستو او د وقایوي پروژو پلي کولو ته اړتیا شتون لري ترڅو خلکو د ځاني او مالي زیانونو د اوښتو مخنیوی وشي.

د کاپیسا محترم والي همدارز ټینګار وکړ چې د لوړپوړو مسؤلینو په مشرۍ د تخنیکي او مسلکي پلاوي لېږل، د ارزونې، څېړنې، لارښوونې او د ولایتي کارکوونکو لپاره د سمینارونو د جوړولو په موخه، د اجرایي چارو د ښه‌والي په لور یو مثبت ګام بلل کېږي. هغه زیاته کړه، چې د دې بهیر عملي کېدل کولی شي د ادارو د اړوندو واحدونو ترمنځ همغږي او انسجام لا پیاوړی کړي.

وروسته، د پېښو چارو د انسجام معین د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د دې ریاست کاري بهیر یې له نږدې وڅېړه. په دې لیدنه کې، محترم معین صاحب له کارکوونکو سره وکتل، د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او د اسنادو، فعالیتونو او کاري بهیرونو د ارزونې ترڅنګ یې، کارکوونکي وهڅول چې د دندې د لایحې سره سم دې چټک، پر وخت او اغېزمن خدمات وړاندې کړي.

د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوي د دې سفر په لړ کې، د یاد ریاست د کارکوونکو لپاره د کاري برخو اړوند د مسلکي لارښودنې، څارنې او روزنیزو سمینارونو بهیر پیل کړ.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د NPA نړیوالې مؤسسې له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې په افغانستان کې د NPA نړیوالې مؤسسې له رئیس ښاغلي رسل، د ناروې د دفتر له مسؤلینو قاسم هاشمي او ښاغلي دروین او د هغوی له مل پلاوي سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۶ نېټه وکتل.

محترم ترابي صاحب وویل چې دا اداره تل د همکارو مؤسسو او بنسټونو مسؤلینو ته داډ ورکوي چې ملاتړ به یې کوي او په مرکز او ولایتونو کې د موسسو لپاره لازمي اسانتیاوې برابروي، تر څو وکولای شي خپلې پروژې پر خپل وخت پلي کړي. نوموړي همدارنګه زیاته کړه چې دا اداره مؤسسې هڅوي تر څو د هېواد د خلکو په ګټه د لا زیاتو بودجو د جلبولو لپاره هڅې وکړي.

د ادارې لوی رئیس همدارنګه وویل چې د دې ادارې د لومړیتوبونو لړلیک ترتیب شوی دی او له دوی سره به شریک شي، تر څو د یو لارښود په توګه وکارول شي او په هماغه برخه کې فعالیتونه ترسره کړي.

په همدې حال کې، ښاغلي رسل د ادارې د لوی رئیس له پرله پسې ملاتړونو څخه ځانګړې مننه وکړه او ویې ویل چې د دې ادارې له لورې د مناسب کاري چاپېریال په برابرېدو سره به هڅه وکړي تر څو لا زیاته بودجه جلب کړي او د ماین‌پاکۍ ملي مؤسسو له لارې به پروژې په ګډه توګه پلي کړي.

همدارنګه، د ناروې د دفتر یو مسؤل ښاغلي دروین د یادې مؤسسې د فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې دا مؤسسه له ۸۵ کلونو راهیسې فعالیت لري، په ۷۰ هېوادونو کې یې فعالیتونه ترسره کړي او اوس هم په ۳۵ هېوادونو کې فعالې پروژې لري. نوموړي زیاته کړه چې افغانستان د دې مؤسسې په ستراتیژۍ کې په لومړیتوب کې شتون لري.

په پای کې، د ادارې د لوی رئیس لخوا هغه ډالۍ چې د یاد پلاوي لپاره په پام کې نیول شوې وې، د NPA موسسی د ناروې د دفتر مسؤل ته وسپارل .

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې عمومي رئیس د کډوالۍ نړیوال سازمان له مسؤلینو سره وکتل او پر ۹۴ وقایوي پروژو هوکړه وشوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې عمومي رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) د وقایوي ساختماني پروژو له مسؤل حامد برهان او د یاد سازمان د پېښو له انجنیر منصور شیراز سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۰ نېټه وکتل او په هېواد کې د وقایوي پروژو د لا ښه تطبیق په اړه یې خبرې وکړې.

په دې ناسته کې محترم ترابي صاحب د طبیعي پېښو د خطرونو د کمولو په برخه کې د وقایوي پروژو پر ارزښت ټینګار وکړ او ویې ویل، چې د دغو پروژو معیاري او اغېزمن تطبیق کولای شي د خلکو د ځان او مال د ساتنې په برخه کې اساسي رول ولوبوي. نوموړي همداراز د پېښو پر وړاندې د مبارزې ملي ادارې او نړیوالو سازمانونو ترمنځ د لا زیاتې همغږۍ غوښتنه وکړه، تر څو پروژې د زیانمنو او له خطر سره مخ سیمو د واقعي اړتیاوو له مخې عملي شي.

همدارنګه د کډوالۍ نړیوال سازمان د وقایوي ساختماني پروژو مسؤل حامد برهان، له یادې ادارې سره د دوامدارې همکارۍ ډاډ ورکړ او ویې ویل، چې IOM ژمن دی تر څو وقایوي پروژې په شفاف، معیاري او ټاکلي وخت کې تطبیق کړي.

په پای کې، دواړو لورو د یاد سازمان له لورې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د ۹۴ وقایوي پروژو پر چټک او اغېزمن تطبیق هوکړه وکړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د افغانستان لپاره د ناروې کمېټې له عمومي رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د ناروې کمېټې له عمومي رئیس ښاغلي تاریا مګنوسن واټرډال، د عمومي رئیس له اجرائیوي همکار, محمد رفیق جنبش او د دولتي چارو د اړیکو له مسئول مجیب‌الله شیرزوی سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۶ نېټه وکتل.

محترم ترابي صاحب وویل چې دې ادارې د زیانمنو شویو کسانو لپاره د مرستو د همغږۍ د مسؤلیت له مخې، د پېښو د مدیریت او زیانمنو ته د مرستې په برخه کې د لومړیتوبونو او اړتیاوو لړلیک ترتیب کړی دی، تر څو هغو مؤسسو ته چې غواړي په دې برخه کې فعالیت وکړي، د تمویل کوونکو لپاره د پروپوزلونو په برابرولو کې لازمې اسانتیاوې برابرې شي.
نوموړي زیاته کړه چې د بشري مرستو او همدارنګه د بنسټیزو پروژو د پلي کولو او د پېښو د خطرونو د کمولو په برخو کې، د مرکز او ولایتونو په کچه ټولو بنسټونو لپاره د هر ډول فعالیت زمینه برابره ده.

په همدې حال کې، ښاغلي واټرډال د ادارې له لوی رئیس څخه د ځانګړې مننې په څرګندولو سره وویل چې د افغانستان لپاره د ناروې کمېټه تر ډېره پر اوږدمهالو پروګرامونو کار کوي او خپله ستراتېژي په څلور کلنه بڼه ترتیبوي. هغه زیاته کړه چې روان کال د دې کمېټې د اوسنۍ ستراتېژۍ وروستی کال دی او د راتلونکې ستراتېژۍ د تدوین پر مهال به حتماً له دې ادارې سره د همغږۍ ناستې ترسره شي.
نوموړي همدارنګه وویل چې د دې ادارې له لوري د وړاندې شویو لومړیتوبونو د لړلیک سره سم، په تېرو کلونو کې یې په ځینو ولایتونو کې د استنادي دېوالونو پروژې او د ظرفیت لوړونې پروګرامونه پلي کړي دي او هڅه کوي چې د سیمه‌ییزو کارکوونکو د ظرفیت لوړونې پروګرامونه لا زیات ترسره کړي، تر څو هغوی وکولای شي پرته له دې چې د نورو مرستو ته اړتیا ولري، پخپله اقدام وکړي.
په پای کې، د محترم ترابي صاحب لخوا هغه ډالۍ چې د یاد پلاوي لپاره یې په پام کې نیولې وه، ښاغلي تاریا مګنوسن واټرډال ته یې ورکړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه د دې ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۹ نېټه د دې ادارې په انګړ کې ترسره شوه.
غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.
وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.
د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندې لازم تصمیمونه ونیول سول.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د اړمنو خلکو (PIN) مؤسسې له مرستیال سره وکتل او ورسره يې د (۷۰۰،۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک کړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، په خپل کاري دفتر کې د اړمنو خلکو (PIN) مؤسسې له مرستيال محترم احسان الله نعيم سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۷ نېټه وکتل او د پروژو د پلي کولو په برخه کې يې د لا ډېرې همغږۍ په اړه خبرې وکړې او ورسره يې د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک کړه.

په پيل کې، محترم ترابي صاحب وويل، لکه څرنګه چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره له بېلابېلو مؤسسو سره، د طبيعي پېښو له امله زيانمنو شويو هېوادوالو ته په بېلابېلو برخو کې نيږدې همکارۍ لري او په دې برخه کې ورسره بې له ځنډه هوکړه ليکونه لاسليک کوي نو د همدې موضوع په پام کې نيولو سره او د نوي ميلادي کال له پيلېدو سره سم، مورږ د مرستو رسولو په موخه د خلکو د اړتياوو او لومړيتوبونو يو لېست ترتيب کړی دی، چې له تاسو سره به يې شريک کړو، تر څو وکولای شئ ياد ليست د خپلو پروژو د پلي کولو لپاره له اړوندو تمويل کوونکو سره شريک کړئ، څو پلي کېدونکې پروژې د مستحقينو لپاره ترسره شي.

همدارنګه، ترابي صاحب د يادې مؤسسې راغلي پلاوي ته د هوکړه ليکونو د لاسليک کولو برخه کې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ او ورته يې وويل، چې په نورو اړوندو امارتي ادارو کې د کومې ستونزې د رامنځته کېدو په صورت کې دې له مورږ سره همغږي شي ترڅو يادې ستونزې هم د امکان تر کچې راکمې کړو.

ورپسې، د اړمنو خلکو مؤسسې مرستيال د دې ادارې له لوی رئيس څخه د وخت ورکولو په موخه د منني کولو ترڅنګ، ياد ليست مستحقو کورنيو ته د رسېدنې برخه کې مثبته و ارزوله او په خپلو راتلونکو پلانونو کې يې د شاملولو او له اړوندو تمويل کوونکو سره يې د شريکولو ډاډ ورکړ، نوموړي همداراز د خپلې پلي کېدونکې پروژې په اړه بشپړ معلومات وړاندې کړل او د هوکړه ليکونو د لاسليکولو په برخه کې يې له دوی سره د دې ادارې د همکاريو ستاينه وکړه.

په پای کې د دواړو لوريو ترمنځ، ټولټال د اوه سوه زره (۷۰۰،۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه، چې له مخې به يې د بلخ ولايت په شولګرې، مارمل او چهارکينټ ولسواليو کې، ۱۵۷۰ مستحقو کورنيو ته په څلورو پړاوونو کې هرې کورنۍ ته د ۱۷۷ ډالرو معادل افغانۍ، ۱۹۵۳ مستحقو کورنيو ته د ۹۱ ډالرو په ارزښت د حيواناتو خوراکي توکي او د هغو د ليږدولو لپاره کرايه او همدارنګه ۲۰۸۶۱ کورنيو ته به د حيواني پرازيت درمل او د هغې د پلي کولو لوازم ووېشل شي.

په پای کې، د محترم ترابي صاحب لخوا هغه ډالۍ چې د ياد پلاوي لپاره يې په پام کې نيولې وه، د مؤسسې مرستيال ښاغلی احسان الله نعيم ته يې ورکړه.

## د پېښو چارو د انسجام معین د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ګدام څخه لیدنه وکړه او د مرستو په مدیریت کې یې پر روڼتیا او نظم ټینګار وکړ



د پېښو چارو د انسجام معین محترم الحاج ملا عبدالوالی څارنوال (حاجي وارث)، کاپیسا ولایت ته د خپل رسمي سفر په لړ کې، د منظم کاري پلان له مخې او په نورو ولایتونو کې د مرستندویه توکو د ګدامونو له ارزونې وروسته، د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم الحاج مولوی محمد صابر احمد او د هغه مل پلاوي په ملتیا، د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۷ نېټه د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د خوراکي او غیرخوراکي توکو له ګدام څخه لیدنه وکړه.

د دې لیدنې پر مهال، د پېښو چارو د انسجام محترم معین د ګدام د خوراکي توکو د ساتنې، تنظیم او ترتیب وضعیت له نږدې وڅېړه او د بشردوستانه مرستو د اصولي، شفاف او معیاري مدیریت پر ارزښت یې ټینګار وکړ. نوموړي وویل چې د خوراکي توکو د زېرمه کولو او د وېش په بهیر کې نظم، شفافیت او ځوابوینه د خلکو او همکارو بنسټونو د باور د جلبولو لپاره بنسټیز رول لري. محترم حاجي وارث همدارنګه لارښوونه وکړه چې معلوماتو ته د لاسرسي د اسانتیا او د شفافیت د لا زیاتوالي په موخه، د ګدام دننه د خوراکي، غیرخوراکي او نورو مرستندویه توکو د ځانګړتیاوو لوحه نصب شي، تر څو د توکو ډول، اندازه، کیفیت، د ترلاسه کولو نېټه او د پای نېټه (انقضا) په واضح ډول په کې درج شي. هغه زیاته کړه چې د دغو مواردو رعایت د توکو له ضایع کېدو مخنیوی کوي او د وېش پر مهال هم اسانتیا، دقت او چټکتیا رامنځته کوي.

په دوام کې، د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ رئیس، محترم الحاج مولوی محمد صابر احمد، د پېښو چارو د انسجام معین له پاملرنې، لیدنې او لارښوونو څخه د مننې تر څنګ ډاډ ورکړ چې ټولې ورکړل شوې لارښوونې به په جدي توګه عملي شي او د مرستندویه توکو د ساتنې، ثبت او مدیریت د سیستم د لا ښه والي لپاره به هڅې روانې وساتل شي.

دا لیدنه د څارنې د پیاوړتیا، د شفافیت لوړولو او د پېښو پر وړاندې د چمتووالي او مبارزې په برخه کې د مدیریتي وړتیاوو د ښه کېدو په موخه ترسره شوې او په کاپیسا ولایت کې د بشردوستانه مرستو د سالم او اغېزمنې کاروونې پر لور یو اغېزناک ګام بلل کېږي.

## د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱،۰۷۷مستحقو کورنیو ته نغدي او خوراکي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د AWDERO مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آماګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت اړوند ۱۰۷۷ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۸ نېټه نغدي او خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲،۹۰۰ افغانۍ نغدي پیسې ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره درې میلیونه او یو سل او درویشت زره او درې سوه (۳،۱۲۳،۳۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې، همدارنګه هغو کورنیو ته چې په هغو کې شیدې خوړونکو ماشومانو شتون درلود یو نیم کیلو سوپرسریال هم ووېشل شول.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د دې ریاست او مؤسسې له مسؤلینو څخه د مننې کولو ترڅنګ د ورته نورو مرستو د دوام غوښتنه وکړه.

## له پېښو سره د مبارزې ملي اداري آمادګۍ او د هلوترسټ مؤسسې ترمنځ د (۲۰۸،۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، په خپل کاري دفتر کې د هلوترسټ مؤسسې د رئيس محترم الحاج ډاکټر فريد احمد همايون سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۷ نېټه وکتل او د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه يې ورسره لاسليک کړه.

محترم ترابي صاحب وويل، لکه څرنګه چې دا پروژه د ماينونو او نورو چاودېدونکو توکو پورې اړه لري، نو له همدې امله يې بايد په پلي کولو کې له شفافيت او سرعت څخه کار واخيستل شي تر څو ورڅخه خلک پر وخت سره د يادو توکو له زيانونو څخه وژغورل شي.

همدارنګه، د يادې مؤسسې رئيس ډاکټر فريد احمد همايون د خپلې پلي کېدونکې پروژې په اړه بشپړ معلومات وړاندې کړل او زياته يې کړه، چې ياده پروژه به په پوره سرعت او شفافيت سره ترسره کوي.

په پای کې د دواړو لوريو ترمنځ ټولټال د دوه سوه او اته زره (۲۰۸،۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه لاسليک شوه، چې له مخې به يې ياده مؤسسه د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې ۲۰،۰۰۰ کسانو ته، چې زياته برخه به يې له ګاونډيو هېوادونو څخه اجباري را ايستل شوي کډوال وي د چاودېدونکو توکو د خطرونو په اړه له ۱۱۰۰ څخه زياتې د پوهاوي غونډې ترسره کړي او همدارنګه د ۱۰ مياشتو لپاره به د چاودېدونکو توکو د خنثی کولو لپاره يو مسلکي ټيم جوړ شي، چې د چاودېدونکو توکو په اړه د بېړنۍ اړيکې له ترلاسه کولو وروسته به يادې سيمې ته ځان رسوي او اړوند چاودېدونکي توکي به خنثی کوي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئيس د افغان‌اېډ مؤسسې د پروګرامونو او د کيفيت پلي کولو له رئيس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، په خپل کاري دفتر کې د افغان‌اېډ مؤسسې د پروګرامونو او د کيفيت پلي کولو له رئيس، عبدالرحمن طارق او د يادې مؤسسې د پروژو له مسؤل، محمد فواد داوودزاده سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۸ نېټه وکتل او د راتلونکو ګډو پروګرامونو په اړه يې خبرې وکړې.

په دې ناسته کې محترم ترابي صاحب وويل، چې د هغو موسسو ترمنځ همکاري چې د بشري مرستو او د پېښو د مديريت په برخه کې کار کې، خورا مهمه او اغېزناکه ده. له همدې امله موږ د لومړيتوبونو او اړتياوو يو لړليک ترتيب کړی چې بشړپاله پروګرامونه او وقايوي پروژې پکې شاملې دي، چې تاسو کولای شئ دا لړليک تمويل کوونکو ته د خپلو طرحو د وړاندې کولو پر مهال په پام کې ونيسئ.

نوموړي همدارنګه ډاډ ورکړ چې د پروژو د پلي کولو لپاره لازمې اسانتياوې برابرې دي، خو که بيا هم کومه ستونزه موجوده وي، موږ د همکارۍ لپاره چمتو يو.

په همدې حال کې ښاغلي عبدالرحمن طارق، د دې اداري د لوی رئيس له همکاريو څخه ځانګړې مننه وکړه او ويې ويل چې په دې اداره کې کاغذبازي نشته او زموږ چارې او اسناد پرته له دې چې موږ يې تعقيب کړو، پر وخت تر سره کېږي. نوموړي د روان ميلادي کال د پروګرامونو په اړه معلومات ورکړل او زياته يې کړه چې موږ د وقايې، چمتووالي، بېړنيو مرستو او همدارنګه د بيارغونې په برخو کې د پېښو د مديريت اړوند کارونه ترسره کړي دي او په راتلونکي کې به هم هڅه وکړو چې د وړاندې شويو لومړيتوبونو په نظر کې نيولو سره پروژې په هېواد کې پلي کړو او دا اړتياوې به له تمويل کوونکو سره هم شريکې کړو.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د افغانستان د بیارغوني مؤسسې له مرستیال سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان د بیا رغوني مؤسسې له مرستیال رحمت الله رحمت او د اړیکو د مسؤل حبیب الرحمن عاصم سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۸ نېټه وکتل.

ښاغلی ترابي صاحب راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست ترځنګ وویل چې خوښ یو چې یو د بل سره همکاري کوو او موږ تل هڅه کوو چې د بیلابیلو لارو زیانمنو کورنیو ته رسیدګي وکړو او پر وخت یې د مرستو څخه برخمن کړو.

همدا راز ترابي صاحب وویل چې د نن‍ۍ مجلس موضوع مو داده چې خپل کلني پلانونه، ستونزې او غوښتني سره شریکي کړو تر څو د نوي کال په جریان کې خلګو ته اساسي او پر وخت خدمتونه ترسره کړو.

ورسته د افغانستان د بیا رغوني مؤسسې مرستیال رحمت الله رحمت وویل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په کارونو کې چټکتیا روښانه ده او موږ له تاسو مننه کوو چې کارونه مو په چټکۍ روان کړي دي.

همدا راز ښاغلي رحمت وویل چې موږ په راتلونکي په بغلان ولایت کې سرپناوي جوړوو چې ورسته به ددې ادارې سره  تفاهم نامه لاسلیک سي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هستوګنې لپاره د آغا خان بنسټ ترمنځ د واورې ښویېدو د مدیریت د همغږۍ غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې, د ترانسپورت او هوايي چلند وزارت د هواپېژندنې ریاست او د هستوګنې لپاره د آغا خان بنسټ (AKAH) ترمنځ د واورې ښویېدو د مدیریت په تړاو د همغږۍ غونډه، د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۸ نېټه د یاد بنسټ په مرکزي دفتر  ترسره شوه.

په پیل کې، د واورې ښویېدو د مدیریت متخصص او د سویس هېواد په جنیوا ښار کې د آغا خان د دفتر سلاکار ښاغلي ډکچه‌بَت ، د واورې ښویېدو او د هغوی د مدیریت د لارو چارو په اړه لنډ پریزنټېشن وړاندې کړ. وروسته، د اړوندو ادارو استازو د هواپېژندنې، د واورې ښویېدو د وړاندوینې او د هغوی د خطرونو د مدیریت په برخه کې خپل نظرونه او تجربې شریکې کړې.

په پای کې پرېکړه وشوه چې د همکارۍ د پیاوړتیا، همغږۍ او د واورې ښویېدو د مدیریت اړوند معلوماتو د شریکولو لپاره به، د یادو ادارو استازي په ربعوار ډول منظمې غونډې ترسره کړي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ADA مؤسسې له پلاوي سره د دوه اړخیزو همکاریو په موخه وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاري دفتر کې د ADA مؤسسې د طبیعي پېښو له مدیر محترم ولي خان احمدزي، د بشري مرستو له مدیر محترم همت او د یادې مؤسسې له انجنیر سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۸ نېټه وکتل.

ترابي صاحب راغلي پلاوي ته ښه راغلاست ووېل او له یادې مؤسسې څخه یې په ارزګان ولایت کې د یو سړک د جوړېدو د کارونو د سرعت او شفافیت غوښتنه وکړه، همدارنګه ترابي صاحب زیاته کړه، چې دا پروژه کوچنۍ ده، مګر له ډېر اهمیت څخه برخمنه ده، چې په بشپړېدو سره به یې د خلکو د تګ راتګ ستونزې تر ډېره را کمې شي.

همدارنګه، ترابي صاحب ووېل، چې د یادې پروژې د پاتې چارو د پای ته رسولو لپاره به د یادې ولسوالۍ له محترم ولسوال او د دې مؤسسې له تمویل کوونکي سره خبرې وکړي.

ورسته د ADA مؤسسې د طبیعي پېښو مدیر محترم ولي خان احمدزي د خپلو پلي شویو پروژې په اړه د معلو ماتو وړاندې کولو ترڅنګ د ارزګان ولایت په خاص ارزګان ولسوالۍ کې د خپلې سړک جوړولو پروژې په اړه خبرې وکړې او زیاته یې کړه، چې یاده پروژه د خاص اروزګان ولسوالۍ په خاک افغان سیمه کې ۱۵ کیلو متره بشپړه شوې ده او د پاتې ۲۵ کیلو متره سړک د جوړولو په اړه یې د دې ادارې د لوی رئیس محترم ترابي صاحب سره د دوه اړخیزو همکاریو په هکله خبرې وکړې.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د (ORCD-GLOBL) مؤسسې د پروګرامونو له مسؤل سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې (ORCD-GLOBL) مؤسسې د پروګرامونو له مسؤل محترم شفیق الله متین او مل پلاوي سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۸ نېټه وکتل او د پروژو د پلي کولو په برخه کې یې د لا ډېرو همغږیو په اړه خبرې وکړې.

محترم ترابي صاحب ووېل، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره له بېلابېلو مؤسسو سره، چې په بېلابېلو برخو کې له افغان وګړو سره مرستې کوي نیږدې همکارۍ لري او له هغوی سره په دې برخه کې بې له ځنډه هوکړه لیکونه لاسلیک کوي او همدارنګه یې د پلي کېدونکو پروژو اړوند کارونه پر وخت ترسره کوي. نو د همدې موضوع په پام کې نیولو سره او د نوي میلادي کال له پیلېدو سره سم، موږ د مرستو رسولو په موخه د خلکو د اړتیاوو او لومړیتوبونو یو لېست په دوو ملي او انګلیسي ژبو ترتیب کړی دی، چې له تاسو سره به یې شریک کړو، تر څو وکولای شئ یاد لیست د خپلو پروژو د پلي کولو لپاره له اړوندو تمویل کوونکو سره شریک کړئ، څو له پلي کېدونکو پروژو د مستحق خلک ګټه اخیستونکي شي.

همدارنګه، ترابي صاحب راغلي پلاوي ته ووېل، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره له مؤسسو سره پر وخت او بې له ځنډه هوکړه لیکونه لاسلیک کوي او همدارنګه د دې ادارې اړوند ولایتي ریاستونه هم له مؤسسو سره د پروژو پلي کولو برخه کې همکارۍ کوي، که چېرې تاسو له نورو اړوندو اماراتي ادارو سره په یاده برخه کې کومه له کومې ستونزې سره مخ کېدی هغه له موږ سره شریکوی، ترڅو اړوند ستونزې ته پر وخت رسېدنه وشي.

په همدې حال کې، د (ORCD-GLOBL) مؤسسې د پروګرامونو مسؤل د دې ادارې له لوی رئیس څخه د وخت ورکولو په موخه د مننې کولو ترڅنګ، د یاد لیست جوړول یو مهم کار یاد کړ او ویې ویل، چې دا لیست به له دوی سره د پروژو د پروپوزلونو په جوړولو کې ډېره مرسته وکړي او د پلي کېدونکو پروژو په اړوندو کارونو کې به یې د پام وړ آسانتیاوې رامنځته کړي. نوموړي همدارنګه د خپلو پلي کېدونکو پروژو د پلي کولو برخه کې د شته ستونزو یادونه وکړه او له محترم ترابي څخه یې په دې برخه کې د پوره همکاریو غوښتنه وکړه.

# سفر کاری معین انسجام امور حوادث به ولایت پروان؛ دیدار با معاون مقام ولایت و آغاز نظارت از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث

محترم الحاج ملا عبدالولی ثارنوال (حاجی وارث)، معین انسجام امور حوادث ادارهٔ ملی آمادگی مبارزه با حوادث، در رأس یک هیأت فنی، تخنیکی، مسلکی و علمی در ادامهٔ سفرهای رسمی خویش به ولایات کشور، به‌منظور بررسی، ارزیابی و رهنمایی کارکردهای ریاست‌های آمادگی مبارزه با حوادث، بتاریخ ۹ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق وارد ولایت پروان گردید.

این سفر در حالی انجام شد که معین انسجام امور حوادث، از زمان فتح امارت اسلامی افغانستان (۲۴ اسد ۱۴۰۰ هـش) تا اکنون که مصادف به سال جاری(۷ دلو ۱۴۰۴ ه ش)، از روند کاری ریاست‌های آمادگی مبارزه با حوادث در ولایات لغمان، نورستان، کنر، ننگرهار، بامیان، غور، دایکندی، میدان‌وردک، لوگر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزنی، زابل، کندهار، ارورگان، هلمند، نیمروز، فراه، هرات، بادغیس، فاریاب، سرپل، جوزجان، بلخ، سمنگان، کندز، بدخشان، تخار، بغلان، پنجشیر و کاپیسا به‌صورت مسلسل و متواتر و مطابق تقسیم‌اوقات تعیین‌شده، نظارت به‌عمل آورده است.

در آغاز این سفر، محترم معین انسجام امور حوادث با محترم الحاج مولوی محمد ابوالوفاء عثمانی، معاون ولایت پروان، با حضور کارمندان، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث این ولایت و هیات همراه‌شان دیدار و گفتگو نمود. این نشست با تلاوت آیاتی چند از کلام الله مجید آغاز گردید.

محترم معین انسجام امور حوادث ضمن تشریح هدف سفر خویش، آن را بررسی وضعیت عمومی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان، پیگیری تطبیق فرامین، احکام و هدایات مقام عالی رهبری امارت اسلامی، ارزیابی امور مالی، اداری و حسابی، نظارت بر تطبیق تفاهم‌نامه‌ها، بررسی پروژه‌های وقایوی، اضطراری و انکشافی، پیگیری روند توزیع کمک‌های بشردوستانه (خوراکی، غیرخوراکی، نقدی و سایر اقلام)، امور ماین‌پاکی، فعالیت‌های نشراتی و همچنان استماع مشکلات و پیشنهادات عنوان نمود.

وی تأکید کرد که ادارهٔ ملی آمادگی مبارزه با حوادث در چارچوب صلاحیت‌ها و مأموریت‌های قانونی خویش، متعهد به همکاری همه جانبه در راستای تطبیق پروژه‌های وقایوی، رسیدگی فوری به نیازهای متضررین حوادث طبیعی و بهبود مدیریت خطرات و کاهش آسیب‌پذیری جوامع می‌باشد.

محترم حاجی وارث صاحب همچنان بر اهمیت توزیع شفاف، عادلانه و مبتنی بر سروی دقیق کمک‌های بشردوستانه برای خانواده هایی که در نتیجهٔ حوادث طبیعی آسیب دیده‌اند، تأکید ورزید. وی افزود که در کنار نظارت و بررسی از روند کاری کارمندان، برای ارتقای ظرفیت مسلکی آنان، رهنمودهای لازم ارائه گردیده و سمینارهای آموزشی در بخش‌های مربوطه تدویر می‌گردد.

سپس محترم الحاج مولوی محمد ابوالوفاء عثمانی، معاون ولایت پروان، ضمن خوش‌آمدیدگویی اظهار داشت که این ولایت به‌دلیل موقعیت جغرافیایی و کوهستانی بودن آن، به‌گونهٔ گسترده از اثر حوادث طبیعی متأثر بوده و همه‌ساله خسارات هنگفت مالی و جانی را به باشندگان آن وارد می‌سازد.

وی ضمن قدردانی از رئیس آمادگی مبارزه با حوادث به‌خاطر رسیدگی به‌موقع به متضررین ناشی از حوادث، از صداقت، پشتکار و زحمات وی ستایش کرد و از رهبر اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث خواست تا به‌منظور بهبود هرچه بیشتر امور، از نامبرده تشویق و تحسین به‌عمل آید تا سایر کارمندان نیز به انجام بهتر وظایف خویش ترغیب شوند. ایشان افزود که نیاز مبرم به کمک‌های بیشتر و تطبیق پروژه‌های وقایوی وجود دارد تا از وارد آمدن خسارات بیشتر به جان و مال مردم جلوگیری شود.

محترم معاون مقام ولایت پروان همچنان تصریح کرد که اعزام هیأت‌های تخنیکی و فنی به ریاست مسؤولان بلندرتبه، به‌منظور بررسی، ارزیابی، رهنمایی و تدویر سمینارها برای کارمندان ولایتی، گامی مثبت در راستای بهبود امور اجرایی به‌شمار می‌رود. وی تأکید نمود که عملی‌سازی این روند می‌تواند سبب تقویت هماهنگی، انسجام و همکاری مؤثرتر میان واحدهای ذی‌ربط ادارات گردد.

متعاقباً، هیأت معین انسجام امور حوادث از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان بازدید نموده و جریان کاری این ریاست را از نزدیک مورد بررسی قرار داد. در این بازدید، معین انسجام امور حوادث با کارمندان دیدار نموده، مشکلات و پیشنهادات آنان را استماع کرد و ضمن ارزیابی اسناد، فعالیت‌ها و روندهای کاری، کارمندان را به ارائهٔ خدمات سریع، به‌موقع و مؤثر مطابق لایحهٔ وظایف تشویق نمود.

قابل یادآوری است که هیأت متذکره در جریان این سفر، روند نظارت، ارائهٔ رهنمودهای مسلکی و تدویر سمینارهای آموزشی را برای کارمندان این ریاست در بخش‌های کاری مربوطه آغاز نمودند.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د CRS مؤسسې له عمومي رئیسې سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د CRS مؤسسې له عمومي رئیسې مېرمن بران ون مور او د دې مؤسسې د کابل دفتر له مسؤل محمد فرید صمیمي سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۹ نېټه وکتل. په دې لیدنه کې د راتلونکو ګډو پروګرامونو او د همکاریو د پراختیا په اړه بحث او د نظرونو تبادله وشوه.

محترم ترابي صاحب، په دې ناسته کې د ملي او نړیوالو بنسټونو ترمنځ، چې په بشري چارو کې فعالیت کوي، د ګډو همکاریو پر اړتیا ټینګار وکړ او ویې ویل، د پروژو د لا ښې همغږۍ او اغېزمنتیا د زیاتوالي په موخه، دې ادارې د ۲۰۲۶ میلادي کال لپاره د لومړیتوبونو اړتیا سنجونه چمتو کړې ده، چې له همکارو مؤسسو سره به شریکه شي، تر څو هغوی وکولای شي دا اړتیاوې په هغو طرحو کې په پام کې ونیسي چې تمویل کوونکو ته یې وړاندې کوي او خلک ترې ګټه واخلي.

په همدې حال کې، د CRS مؤسسې رئیسې مېرمن بران ون مور د ادارې د لوی رئیس له ملاتړونو څخه مننه وکړه او د خپلې مؤسسې د راتلونکي کال پروګرامونه یې له ناستې سره شریک کړل. هغې ووېل چې دې مؤسسې په تېر کال کې، په مستقیم ډول یا د ملي همکارو مؤسسو له لارې، له پنځه میلیونه (۵،۰۰۰،۰۰۰) ډالرو څخه زیاتې مرستې د پېښو د مدیریت او بشري مرستو په سکتور کې لګولې دي. نوموړې زیاته کړه چې که څه هم افغانستان ته د تمویل کوونکو بودجه کمه شوې ده، خو د CRS مؤسسې ژمنتیا د افغانستان له خلکو سره لا هم پر خپل حال پاتې ده. د هغې په وینا، دا مؤسسه غواړي پروژې تر ډېره د ملي مؤسسو له لارې پلي کړي، ځکه د هغوی اداري لګښتونه کم دي او د پروژو د ګټه‌اخیستونکو شمېر زیاتېږي.

همدارز، محترم ترابي صاحب اغلې میرمن بران مور ته ووېل چې په لغمان ولایت کې د اجباري راستنېدونکو مهاجرینو شمېر چې ۳۹۰ کورونو ته رسېږي، په ډېر سختو شرایطو کې شپې سبا کوي. تاسو ورسره مرسته وکړئ. اغلې میرمن بران مور په ځواب کې ووېل چې دوی به خپل کارکوونکي واستوو او له نږدې به د کمپ څخه لیدنه وکړي.

په پای کې د محترم ترابی صاحب لخوا څخع هغه ډالۍ چې له وړاندې ورته په پام کې نیول شوې وه، د CRS مؤسسې رئیسې مېرمن بران ون مور ته ورکړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د جنګ ځپلو ماشومانو لپاره د کاناډايي مؤسسې ترمنځ د (۳۹۰،۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې، لوی رئيس الحاج ملا نورالدين ترابي د جنګ ځپلو ماشومانو لپاره د کاناډايي مؤسسې له مرستيال محترم محمد حامد سهاک سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۹ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاريو تفاهم نامه يې ورسره لاسليک کړه.

په پيل کې، محترم ترابي صاحب راغلي پلاوي ته ښه راغلاست وويل، او له ياد پلاوي څخه يې وغوښتل چې خپله پروژه دې ژر او په پوره شفافيت سره ترسره کړي، ترڅو ورڅخه اړونده کورنۍ پر وخت ګټه اخيستونکي شي، همدارنګه ترابي صاحب زياته کړه، مرسته کوونکو مؤسسې بايد د ولس اړتياوو او غوښتنو ته په کتو سره دي خپلي پروژې پلي کړي نه د مذهب او جغرافيې په نظر کې نيولو سره.

وروپسي، محترم سحاک له ترابي صاحب څخه د وخت ورکولو په پار مننه وکړه او د خپلې پلي کېدونکې پروژې په اړه يې بشپړ معلومات وړاندې کړل.

په پای کې، د دواړو لوريو ترمنځ ټولټال د درې سوه او نوي زره (۳۹۰،۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه، چې له مخې به يې د کنړ ولايت په ځوکۍ او نورګل ولسواليو کې ۶۰۳ مستحقو کورنيو چې هرې يوې ته به ۲۰۰ ډالر ووېشل شي، د ماشومانو د زده کړو لپاره به ۱۶ مرکزونه جوړ شي، چې په هر مرکز کې به د ماشومانو شمېر له ۲۵ څخه تر ۳۰ تنو پورې وي، ۴۵۲ ماشومانو ته به د ژمنيو جامو بستې ووېشل شي، ۴۵۰ ښځو او نجونو ته به د شخصي روغتيا ساتنې بستې ووېشل شي، ۲۰۰ تنه ماشومانو ته به د قضاياوو د مديريت برخه کې خدمات وړاندې شي او ۲۰۰۰ تنه ماشومانو ته به د ځان ساتنې او سالمې تربيې په هکله معلومات ورکړل شي او همدارنګه ۱۰۰ کسانو ته به نور تخصصي خدمات وړاندې شي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس د OCHR مؤسسې له مرستيال سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، په خپل کاري دفتر کې د بشري مرستو د همغږۍ موسسې (OCHR) له مرستيال عبدالمجيد زرمتـي سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۰ نېټه وکتل او د راتلونکو ګډو پروګرامونو په اړه يې خبرې وکړې.

محترم ترابي صاحب د OCHR مؤسسې پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنګ، له ملي او نړيوالو مؤسسو سره د منظمې او اغېزمنې همکارۍ پر اهميت خبرې وکړې او ټينګار يې وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې تل هڅه کړې ده چې د همکارو مؤسسو لپاره لازمې اسانتياوې برابرې کړي. نوموړي همداراز د لومړيتوبونو د ټاکلو، د بېړنيو اړتياوو او د طبيعي پېښو له امله زيانمنو شويو کسانو ته په ښه توګه د رسېدنې لپاره د لا ښې همغږۍ په اړه خپل نظرونه شريک کړل.

وروسته، د OCHR مؤسسې مرستيال عبدالمجيد زرمتـي له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له دوامدارو همکاريو څخه د مننې او قدردانۍ تر څرګندولو وروسته، دغه اداره يې د چټک عمل، د کارونو په ترسره کولو کې د شفافيت او اغېزمنې همغږۍ له امله د بشري مرستو د پروګرامونو پلي کولو او د پېښو د مديريت لپاره له مهمو سکتورونو څخه وبلله. نوموړي د OCHR مؤسسې د راتلونکو پروګرامونو په اړه هم معلومات ورکړل او ډاډ يې ورکړ چې دا مؤسسه چمتو ده، څو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سره د همغږۍ په چوکاټ کې، د پېښو له امله زيانمنو کسانو ته د رسېدنې په برخه کې اغېزمنې او موخه ييزې پروژې پلي کړي. هغه همداراز ټينګار وکړ چې دا لړليک يو نوښت دی او کولای شي د يوې باوري سرچينې په توګه د تمويل کوونکو د قناعت ورکولو په برخه کې له موږ سره ډېره مرسته وکړي.

## د پېښو چارو د انسجام معین د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست له گدام څخه لیدنه وکړه او د مرستو په مدیریت کې یې پر روڼتیا او نظم ټینگار وکړ



د پېښو چارو د انسجام معین محترم الحاج ملا عبدالوالی څارنوال (حاجي وارث)، پروان ولایت ته د خپل رسمي سفر په لړ کې، د منظم کاري پلان له مخې او په نورو ولایتونو کې د مرستندویه توکو د گدامونو له ارزونې وروسته، د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ رئیس، محترم الحاج مولوی محمد صابر احمد او د هغه مل پلاوي په ملتیا، د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۹ نېټه د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د خوراکي او غیرخوراکي توکو له گدام څخه لیدنه وکړه.

د دې لیدنې پر مهال، د پېښو چارو د انسجام محترم معین د گدام د خوراکي توکو د ساتنې، تنظیم او ترتیب وضعیت له نږدې وڅېړه او د بشردوستانه مرستو د اصولي، شفاف او معیاري مدیریت پر ارزښت یې ټینگار وکړ. نوموړي وویل چې د خوراکي توکو د زېرمه کولو او د وېش په بهیر کې نظم، شفافیت او ځواب وینه د خلکو او همکارو بنسټونو د باور د جلبولو لپاره بنسټیز رول لري.

محترم حاجي وارث همدارنگه لارښوونه وکړه چې معلوماتو ته د لاسرسي د اسانتیا او د شفافیت د لا زیاتوالي په موخه، د گدام دننه د خوراکي، غیرخوراکي او نورو مرستندویه توکو د ځانگړتیاوو لوحه نصب شي، تر څو د توکو ډول، اندازه، کیفیت، د ترلاسه کولو نېټه او د پای نېټه (انقضا) په واضح ډول په کې درج شي. هغه زیاته کړه چې د دغو موارد رعایت د توکو له ضایع کېدو مخنیوی کوي او د وېش پر مهال هم اسانتیا، دقت او چټکتیا رامنځته کوي.

په دوام کې، د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې د آمادگۍ رئیس، محترم مولوی عبدالعلیم افضلی، د پېښو چارو د انسجام معین له پاملرنې، لیدنې او لارښوونو څخه د مننې تر څنگ ډاډ ورکړ چې ټولې ورکړل شوې لارښوونې به په جدي توگه عملي شي او د مرستندویه توکو د ساتنې، ثبت او مدیریت د سیستم د لا ښه والي لپاره به هڅې روانې وساتل شي.

دا لیدنه د څارنې د پیاوړتیا، د شفافیت لوړولو او د پېښو پر وړاندې د چمتووالي او مبارزې په برخه کې د مدیریتي وړتیاوو د ښه کېدو په موخه ترسره شوې او په پروان ولایت کې د بشردوستانه مرستو د سالم او اغېزمنې کارونې پر لور یو اغېزناک گام بلل کېږي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۷۳۸ خانواده مستحق مساعدت نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه تقویه عدالت و جامع مدنی(JCSSO) که تمویه کننده پروژه آن OCHA-AHF می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۷۳۸ خانواده مستحق در ولسوالی دره بتاریخ ۹ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق مساعدت نقدی توزیع کرد.

در این روند در حضور مسوولان برای هر خانواده به عنوان دور سوم، مبلغ ۲۷۶۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ دو میلیون و سی و شش‌هزار و هشت‌صد و هشتاد(۲،۰۳۶،۸۸۰) افغانی در نظر گرفته شده بود.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست اجباري راستنو شو یو ته چې په یو مناسب وضعت کې نه وې بیړنۍ مرسته ترسره کړه




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست رییس محترم قاري خیر محمد غازي، له خپل کاري ټیم سره یو ځای د سلوتک او ګلاران سیمو ته لاړ او د اجباري ایستل شویو له کتني وروسته یې، چې په یو نا مناسب وضعت کې یې شتون درلود د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۵ نېټه بیړنۍ مرستې ترسره کړې.
محترم قاري صاحب د دې ترڅنګ چې له راستنېدونکو سره خواخوږي وکړې، هرې یو ته یې روغتیایي بستې، چې پکې څو قلمه توکو شتون درلود او په سرپناوو باندې د اچولو په موخه ورته ترپالونه وویشل.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات برای خانواده‌های متضرر ناشی از سردی هوا و برف سنگین غذای گرم و مواد سوخت توزیع کرد



بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات، برای ۳۷ خانواده‌ای که در اثر سرمای شدید و برف‌باری‌های اخیر در آن ولایت متضرر شده بودند، بتاریخ ۵ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق کمک‌های عاجل نموده و غذای گرم و مواد سوخت توزیع نمود.
این روند با حضور محترم مولوی عبدالغنی کامل، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات انجام شد.
قابل یادآوری است که کارمندان مرکزی و ولایتی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، به‌منظور نجات آسیب‌دیدگان و رسیدگی فوری به خانواده‌های متضرر از برف‌باری‌های شدید اخیر، تلاش‌های همه‌جانبه‌ی خود را آغاز کرده‌اند.

## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۳ اجباري راستنېدونکو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې




د بامیان ولایت له پېښوسره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت په مرکز کې ۸۳ راستنېدونکو کورنیو ته چې له ایران او پاکستان څخه په اجباري ډول ایستل شوې وې او په یاد ولایت کې ځای پر ځای شوې وې، د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۶ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې.
په دې لړ کې هرې کورنۍ ته له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له لورې یوه بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو تور چای او د UNICEF سازمان له لورې هرې کورنۍ ته یو روغتیایي کېټ وویشل شول.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ریاست د درنې واورې له امله د کابل ښار د ۱۹مې ناحیې او د پغمان ولسوالۍ تړل شوی عومي سړک بېرته پرانیستل شو




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین په لارښوونه، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۵ نېټه، د درنې واورې د ورښت له امله د کابل ښار ۱۹مې ناحیې او د پغمان ولسوالۍ تړل شوی عومي سړک د تګ راتګ پرمخ بېرته پرانیستل شو.

د پغمان ولسوالۍ د ارغندي له چوک څخه د بره ارغندي د کته خېلو تر کلي پورې ۱۵ کیلو متره سړک د اسکواټور په واسطه پاک شوی چې په پایله کې یې د ۴۶ کیلو د خلکو او د موټرو د تګ راتګ پر مخ سړک پرانیستل شوی دی.

همدارنګه، د کابل ښار ۱۹مې ناحیې اړوند ۱۳ او ۱۴م ګذر کې هم د لویې لارې د پاکولو کارونه پیل شوي، د دې ترڅنګ یاد ریاست په ده سبز ولسوالۍ کې د ځینو کلیو لارې هم د ټراکتور په واسطه پاکې شوې دي.

د یاد ریاست هڅې د خلکو د ستونزو کمولو او عادي ژوند ته د بېرته ستنېدو په موخه روانې دي.

## چندین تن چوپان و مواشی گیرمانده آنان در برف در ولسوالی فراشغان ولایت لغمان نجات داده شدند




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان، در پی بارش شدید برف در ولسوالی فراشغان ولایت لغمان، ۷ تن چوپان و حدود ۲۵۰ رأس مواشی که در ولسوالی فراشغان در برف گیر مانده بودند بتاریخ ۵ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق را پس از انجام عملیات موفق نجات، به ساحات امن منتقل نمود.

قاری خیرمحمد غازی، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث، گفت که این عملیات در ساحه نوبلوط چاشدر با تلاش تیم نجات مردمی و همکاری باشندگان محل با موفقیت کامل انجام شد.

قابل ذکر است که با وجود سردی شدید هوا، خطر برف‌کوچ و دشواری مسیرها، تمامی افراد و مواشی بدون وارد شدن تلفات جانی و مالی نجات داده شدند و وضعیت صحی افراد نجات‌یافته قناعت بخش می‌باشد.

## توزیع کمک‌های غیرغذایی برای ۷۵۰ خانواده مستحق در ولایت کنر



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر، با حمایت سازمان بین‌المللی مهاجرت(IOM)، برای ۷۵۰ خانواده مستحق در ولسوالی‌های نورگل، خاص‌کنر، وته‌پور، چپه‌دره، شیگل، منوره و اسعدآباد آن ولایت بتاریخ ۶ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق کمک‌های غیرغذایی توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسئولان مربوطه، برای هر خانواده بسته‌های حفظ‌الصحه (کیت‌های بهداشتی) توزیع گردید.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۸۰۰ خانواده مستحق کمک‌های نقدی توزیع نمود



بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه CWSA، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت این مؤسسه، پس از انجام سروی، در ولسوالی یکاولنگ نمبر یک آن ولایت، بتاریخ ۶ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق مرحله دوم کمک‌های نقدی را برای ۸۰۰ خانواده مستحق توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسئولین، به هر خانواده مبلغ ۲،۶۶۲ افغانی توزیع گردید که در مجموع برای این تعداد خانواده، مبلغ دو میلیون و یکصد و بیست و نه هزار و شش‌صد (۲،۱۲۹،۶۰۰) افغانی پول نقد اختصاص داده شده بود.

قابل یادآوری است که برای این تعداد خانواده، در سه ماه آینده نیز کمک‌های نقدی ادامه خواهد داشت.

# د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست بېلابېل چاودېدونکي توکي کشف او خنثی کړل



د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC ماین پاکۍ مؤسسې د تخنیکي ټیم په ملاتړ، د دې ولایت د خاکسفید ولسوالۍ په خوست کلي کې د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۶ نېټه یو شمېر چاودېدونکي توکي کشف او په خوندي توګه له منځه یوړل.

د یادو عملیاتو په پایله کې، ۲ کړۍ خوشه یې ماینونه او یو فیر د توپ مرمۍ، چې د یادې سیمې اوسېدونکي یې له ګواښ سره مخ کړي وو، کشف او په خوندي توګه خنثی شول.

د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له خلکو غوښتي، چې د هرډول مشکوک او چاودېدونکي توکي د لیدلو په صورت کې دې له اړوندو مسؤلینو سره اړیکه ونیسي، چې ترڅو یې د له منځه وړلو لپاره اړین اقدامات ونیو ل شي.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۳۲۰ خانواده آسیب‌دیده از خشکسالی کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، پس از انجام سروی، بتاریخ ۷ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق برای ۳۲۰ خانواده آسیب‌دیده از خشکسالی مربوط مرکز آن ولایت، کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسئولین، به هر خانواده یک بوری گندم و یک بسته وسایل آشپزخانه توزیع گردید.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د RRDPO مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویلو کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د مهتر لام ښار اروند او په علینګار، دولت شاه، الیشنګ، باد پښ او قرغیو ولسوالیو کې د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۷ نېټه ۷۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال، ۱ کیلو مالګه، سوپر سریال او مغذي حلوا ووېشل شوه.

د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو د ترلاسه کولو له امله د خوښۍ څرګندولو ترڅنګ له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او همکارو بنسټونو څخه د پر وخت رسېدنې په پار قدرداني وکړه.

## په هلمند ولایت کې ناچاوده توکي کشف او شنډ شول




د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ د AREA ماین پاکۍ موسسې QRT-11 تخنیکي ټیم د ثبت شویو راپورونو په چوکاټ کې MAPA-Hotline-3006 له لارې د نوزاد ولسوالۍ علیزي کلي ته د څېړنو لپاره لېږدول شوی و.

د ترسره شویو څېړنو په پایله کې، د AIM ډول یو کړۍ ماین چې د پخوانیو جګړو پاتې شوني وه او د اوبو له امله د خاورې د مینځلو له کبله ښکاره شوی و، وپېژندل شوه. دغه ماین د ماین پاکۍ د اصولو له مخې په خوندي ډول د چاودنې ځای ته انتقال او د امنیتي ځواکونو په همغږۍ سره په بشپړ ډول له منځه یووړل شو.

د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست یو ځل بیا له ټولو ښاریانو غوښتنه کوي چې که د هر ډول شکمنو او یا چاودېدونکو توکو سره مخ شي، موضوع دې سمدستي دې ریاست ته خبر کړي، تر څو د شنډولو اړین اقدامات پر وخت ترسره شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۸۰۰ خانواده مستحق کمک‌های نقدی توزیع نمود




بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه CWSA، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت این مؤسسه، پس از انجام سروی، بتاریخ ۷ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق در ولسوالی یکاولنگ نمبر یک آن ولایت، مرحله دوم کمک‌های نقدی را برای ۸۰۰ خانواده مستحق توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسئولین، به هر خانواده مبلغ ۲،۶۶۲ افغانی توزیع گردید که در مجموع برای این تعداد خانواده، مبلغ دو میلیون و یک‌صد و بیست و نه هزار و شش‌صد (۲،۱۲۹،۶۰۰) افغانی پول نقد اختصاص داده شده بود.

قابل یادآوری است که برای این تعداد خانواده، در سه ماه آینده نیز کمک‌های نقدی ادامه خواهد داشت.

## د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱ کورنۍ ته بېړنۍ رسېدنه وکړه




د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت د مرکز اروند په خالا سیمه کې د سړې هوا له خطر سره مخ یوې کډوالې کورنۍ ته بېړنۍ رسېدنه وکړه او هغوی ته یې د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۷ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشله.
په دې مرسته کې یادې کورنۍ ته ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه، ۱ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو چای، ۱۰ منه د سون لرګي او ۲۰ پخې ډوډۍ او د ناروغو ماشومانو لپاره درمل ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل کار پاک‌سازی جاده‌های عمومی را در ولسوالی‌های این مختلف تکمیل کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل، به هدایت مقام ادارۀ ملی آمادگی مبارزه با حوادث و با همکاری مشترک وزارت دفاع، کار پاک‌سازی جاده‌های عمومی مسدودشده از اثر برف‌باری را در ولسوالی‌های فرزه و ده‌سبز این ولایت به‌منظور تسهیل رفت‌وآمد مردم و وسایط نقلیه بتاریخ ۸ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق تکمیل و دوباره بازگشایی نمود.
در ولسوالی فرزه، مسیر ۲۰ کیلومتری از قریۀ زرگران تا قریۀ بند، توسط گلیدر از برف پاک‌سازی شد که در نتیجه، راه رفت‌وآمد باشندگان و وسایط نقلیۀ ۹ قریه باز گردید. همچنان در ولسوالی ده‌سبزَ، مسیر ۲۲ کیلومتری از عزیزی هوتک تا قریۀ ده‌سبز خاص با استفاده از تراکتور پاک‌سازی شد که در پی آن، جادۀ رفت‌وآمد برای باشندگان و وسایط نقلیۀ ۱۶ قریه باز شد.
همچنین، کار پاک‌سازی جادۀ عمومی از منطقۀ راست‌دره تا قریۀ مرغزار در ولسوالی شکردره جریان دارد. در ولسوالی پغمان، مسیر ۱۱ کیلومتری از عینو دکان‌ها تا قریۀ سیموچک توسط اسکواتور پاک‌سازی شده و در ولسوالی خاک‌جبار، کار پاک‌سازی جادۀ عمومی از قریۀ دوران تا قریۀ عبدالله‌خیل آغاز گردیده است. افزون بر این، در ولسوالی سروبی نیز مسیر ۸ کیلومتری از قریۀ کلالان تا کلینیک از برف پاک‌سازی شده و در سایر مناطق مختلف، کار بازگشایی راه‌ها با سرعت ادامه دارد.
ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل تأکید می‌ورزد که تلاش‌ها برای رسیدگی به مشکلات مردم به‌گونۀ دوامدار ادامه خواهد داشت.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیا برای خانواده‌های در معرض خطر برف‌باری‌های سنگین مساعدت عاجل نمود




بر اساس هدایت مقام محترم اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیا، برای ۳۹ خانواده کوچی که در اثر برف‌باری در ولسوالی‌های خمکنی و دند پتان آن ولایت با خطر مواجه بودند، بتاریخ ۷ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق کمک‌های فوری غذایی و غیرغذایی را توزیع کرد.

در این کمک‌ها، برای ۷ خانواده مربوط ولسوالی دند پتان برای هر خانواده ۵۰ کیلوگرام آرد، ۵ کیلوگرام شکر، نیم کیلوگرام چای، ۴ تخته کمپل، ۱ باب خیمه و ۱ سطل پلاستیکی، همچنان برای ۴ خانواده دیگر هر یک ۵۰ کیلوگرام آرد، ۵ کیلوگرام شکر، ۱ کیلوگرام چای و ۱ بسته بهداشتی و در ولسوالی خمکنی برای ۱۴ خانواده برای هر یک ۵۰ کیلوگرام آرد، ۵ کیلوگرام شکر، نیم کیلوگرام چای و ۳ تخته کمپل، همچنان برای ۱۳ خانواده هر یک ۱ باب خیمه، ۲ تخته کمپل و ۱ سطل آب و به ۱ خانواده نیز ۴ تخته کمپل توزیع شد.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت زابل برای ۵ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های عاجل غذایی و مواد سوخت توزیع کرد

بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت زابل در پی بارندگی شدید برف، سردی هوا و مسدود شدن راه‌ها در ولسوالی سیوری، قریه حجانی، برای ۵ خانواده آسیب‌دیده از میان کوچی‌های محل، بتاریخ ۸ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق کمک‌های عاجل غذایی و مواد سوخت توزیع نمود.

این کمک‌ها در حالی به ساحه انتقال داده شد که به دلیل بسته شدن راه‌های مواصلاتی، خانواده‌های متذکره با کمبود مواد غذایی و سوخت روبه‌رو بودند. تیم کاری ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت زابل به‌موقع به ساحه رسیده و برای هر خانواده آسیب‌دیده، یک بوری آرد ۵۰ کیلویی، یک بوری برنج ۲۵ کیلویی، ۵ کیلوگرام شکر، نیم کیلوگرام چای، ۵.۵ سیر چوب سوخت و ۱۰ قرص نان پخته توزیع گردید.



## د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستۍ واورې او یخنۍ له امله ۶ زیانمنو شویو کورنیو ته د سون لپاره لرګي او خوراکي توکي ووېشل



د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د کډوالو ریاست سره په همغږۍ د دې ولایت د څلورمې حوزې اړوند په پشتون آباد سیمه کې، د وروستۍ واورې ورېدو او نخنۍ له امله ۶ زیانمنو شویو کورنیو ته وروسته له سروې د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۸ نېټه د سون لپاره لرګي او خوراکي توکي ووېشل.

دا لړۍ د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د رئیس محترم مولوي حمد الله بشیر او نورو اړوندو مسؤلینو په شتون کې ترسره شوه، چې یادو کورنیو ته پکې ۵۶۰ کیلو د سون لرګي، ډوډۍ او ملايي ووېشل شوه.

د یادونې وړ ده، چې یاد ریاست د دې کورنیو لپاره د یوې مناسبې سرپناه د برابرولو په هڅه کې دی.

## د لوګر ولایت په مرکز او خروار ولسوالۍ کې د درنو واورو څخه د عمومي لارو د پاکولو چارې بشپړې شوې



د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستۍ سختې واورې له امله د یاد ولایت په مرکز او خروار ولسوالۍ کې د بندو عمومي لارو د پاکولو چارې د یاد ریاست له لورې د کرایه شویو ماشینرۍ په واسطه په بریالیتوب سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۸ نېټه پای ته ورسولې او د تګ راتګ کوونکو پر مخ د دوه یم ځل لپاره پرانیستل شوې.

همدارنګه، د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د رئیس محترم قاري نورالله محمود او مل پلاوي له لورې د دې ولایت د لرې پرتو ولسوالیو مواصلاتي لارو سروې ترسره شوه او ډاډ ورکوي، چې د دې ولایت اړوند ټولې د تګ راتګ لارې د وروستۍ واورې له امله د بندېدو وروسته خلاصې شوې دي.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په جغتو ولسوالۍ کې د ۳ لویو حوزو فرعي سړکونه د تګ راتګ پرمخ پرانیستل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د مقام په لارښوونه، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اضطرار له بودجې څخه په ګټې اخیستنې سره، د دې ولایت په جغتو ولسوالۍ کې د زیاتې واورې د ورښت له امله د آبتله، باریکاب او کنډ قول حوزو تړل شوي فرعي سړکونه له واورو څخه پاک او د خلکو او نقلیه وسایطو د تګ راتګ پر مخ د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۹ نېټه بېرته پرانیستل.

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست رئیس، مولوی احمد شاه ذهین، ټینګار کوي، چې د یاد ریاست د کاري ټیم له لورې هڅې رواني دي ترڅو د خپلو امکاناتو په کارولو سره په نورو ولسوالیو کې هم هغه فرعي سړکونه د خلکو او نقلیه وسایطو د تګ راتګ پر مخ بېرته خلاص کړي چې د واورو له امله تړل شوي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندهار برای ۷ خانواده آسیب‌دیده ناشی از طوفان و برف‌باری‌ها کمک‌های غذایی، غیرغذایی و نقدی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندهار، با هماهنگی مقام محترم ولایت و ریاست امور مهاجرین، پس از انجام سروی، بتاریخ ۸ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق برای خانواده‌های ۶ تن شهدا و ۱ تن مجروح که در اثر برف‌باری شدید و طوفانی اخیر در آن ولایت متضرر شده بودند، کمک‌های غذایی، غیرغذایی و نقدی توزیع نمود.

در این روند، پس از سروی و با حضور مسئولان مربوطه، برای هر خانواده از ورثه ۶ شهید مبلغ ۲۰،۰۰۰ افغانی و برای خانواده یک تن مجروح مبلغ ۱۰،۰۰۰ افغانی کمک نقدی پرداخت گردید که در مجموع مبلغ ۱۳۰،۰۰۰ افغانی برای این خانواده‌ها اختصاص داده شده بود.

همچنان، برای هر خانواده شهید، ۲ بوری آرد، ۱۰ کیلوگرام شکر، ۱ کیلوگرام چای سیاه، ۱ تخته ترپال، ۱ باب خیمه، ۲ جوره چپل نیز توزیع شد

## د لغمان ولایت په قرغه یي پنډغالي کې اجبارې راستنو شویو ته خوراکي مرستې ووېشل شوې

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کلیو د پراختیا ریاست سره په همغږۍ، د یاد ولایت د محترم مقام د حکم له مخې، د قرغه یي ولسوالۍ په سرخکان پنډغالي کې اجبارې راستنو شویو ته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۹ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د محترم رئیس قاري خیر محمد غازي، د کډوالو چارو د محترم رئیس مولوي غلام محمد بلال او یو شمیر نورو مسؤلینو په شتون کې، ۸۰ تختې ترپالونه او ډېرو مستحقو کورنیو ته یو شمېر کمپلې ووېشل شوې.




## برای ورثه شهدای ناشی از فرو ریختن سقف خانه بر اثر برف‌باری در ناحیه ۱۲ شهر کابل مساعدت نقدی توزیع شد

بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار، برای ورثه چهار شهید که از اثر ریزش برف سنگین، سقف خانه شان در ناحیه ۱۲ شهر کابل فروریخته بود و باشنده‌گان اصلی ولسوالی چپرهار آن ولایت هستند، بتاریخ ۸ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق مساعدت نقدی توزیع کرد.

محترم قاری داد محمد حسینی، برای ورثه این شهدا، بالای هر شهید مبلغ بیست هزار(۲۰،۰۰۰) افغانی توزیع نمود که در مجموع برای ۴ شهید، مبلغ هشاد هزار(۸۰،۰۰۰) افغانی توزیع شد.



## د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۳۸ مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د عدالت او مدني ټولنې د پیاوړتیا د موسسې (JCSSO)، ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د OCHA-AHF سازمان دی، د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت په حصه اول ولسوالۍ کې د کونډو، معلولینو او نورو مستحقو ۷۳۸ کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۹ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲،۷۶۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال دوه میلیونه او شپږ دېرش زره او اته سوه او اتیا (۲،۰۳۶،۸۸۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۱،۹۰۰ خانواده مستحق مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه CWSA، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی این موسسه، پس از انجام سروی، بتاریخ ۹ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق مرحله دوم مساعدت نقدی را برای ۱۹۰۰ خانواده مستحق در قریه‌جات مرکز آن ولایت توزیع کرد.

در این روند با حضور مسوولان، برای هر خانواده به عنوان دور دوم، مبلغ ۲۶۶۲ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ پنج میلیون و پنجاه و هفت هزار و هشت صد (۵،۰۵۷،۸۰۰) افغانی در نظر گرفته شده بود.

قابل یادآوری است که برای این خانواده‌ها، کمک‌های نقدی در سه ماه آینده نیز ادامه خواهد داشت.

## د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۷۹ مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ورلډویژن مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت اړوند ۱۷۹ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۰ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۲۹۶ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره نه سوه او اوه څلوېښت زره او نه سوه او څلور اتیا (۹۴۷،۹۸۴) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۲ کورنیو ته د حیواناتو لپاره وچه پروړه ووېشله



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په ارغستان ولسوالۍ کې له درنو واورو او سړې هوا له امله ۳۲ زیانمنو کورنیو ته د مسؤلینو په شتون کې له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۰ نېټه د څارویو لپاره وچه پروړه ووېشله.
په دې بهیر کې، هرې کورنۍ ته د اړتیا د کچې له مخې، له ۸ نه تر ۳۲ منه وچه پروړه ووېشل شوه، چې ټولټال ۴۰۰ منه وچه پروړه د زیانمنو کورنیو د څارویو لپاره ځانګړې شوې وه.
همدارنګه دوو کورنیو ته چې هستوګنیز کورونه یې ویجاړ شوي وو، خیمې او یوې کورنۍ ته ترپال هم ووېشل شول.

## کار ساخت یک دیوار استنادی و پاک‌کاری مسیر سیلاب در ولسوالی کوټ ولایت ننگرهار آغاز شد




کار ساخت یک دیوار استنادی و پاک‌کاری مسیر سیلاب در قریه لاغرجوی ولسوالی کوټ ولایت ننگرهار، بتاریخ ۱۰ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق به‌گونه رسمی آغاز گردید. هدف از تطبیق این پروژه، جلوگیری از خطرات احتمالی سیلاب و کاهش آسیب‌پذیری باشندگان محل عنوان شده است.
این پروژه شامل ساخت یک دیوار استنادی به طول ۸۰ متر و ارتفاع ۴.۵ متر می‌باشد که با حمایت مالی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و توسط ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار تطبیق می‌گردد. با تکمیل این پروژه، صدها خانواده، دکان‌ها، مکتب، مساجد و سایر تأسیسات عامه و شخصی از خطر سیلاب‌های احتمالی مصوون خواهند شد.
باشندگان قریه لاغرجوی ضمن ابراز خرسندی از آغاز کار این پروژه، از توجه و اقدام به‌موقع مسئولین ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار قدردانی نموده و تأکید کردند که تطبیق چنین پروژه‌هایی نقش مهمی در کاهش خطرات ناشی از حوادث طبیعی دارد.

## د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۴۰ مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د عدالت د پیاوړتیا او مدني ټولنې د پراختیا مؤسسې(JCSSO) ترمنځ د لاسلیک شوي تفاهم لیک له مخې، چې د یادې پروژې تمویل کوونکی OCHA-AHF دی، د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت مرکز بازارک اړوند د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۰ نېټه ۷۴۰ مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې د مسوولینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته د دریېم پړاو ۲۷۶۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال دوه میلیونه او دوه څلوېښت زره او څلور سوه (۲،۰۴۲،۴۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د ننګرهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د چت د نړېدو له امله د شهیدانو له کورنۍ سره نغدي مرسته وکړه




د ننګرهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست پلاوي، د یاد ولایت د مرکز جلال‌آباد ښار د اوومې ناحیې په غوچکو سیمه کې د یوې زیانمنې کورنۍ د وضعیت د څېړنې لپاره چې د کور چت یې نړېدلی و، د یادې کورنۍ څخه د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۱۰ نېټه له نږدې لیدنه وکړه.
یاد پلاوي له زیانمنې کورنۍ سره خپله ژوره خواخوږي څرګنده کړه، د شهیدانو لپاره یې دعا وکړه او له زیانمنې کورنۍ سره یې د سل زره (۱۰۰,۰۰۰) افغانیو نغدي مرسته وکړه.
یاده کورنۍ چې د چت نړېدو له امله یې له بده مرغه یوه ښځه او شپږ ماشومان له لاسه ورکړي وو او د کورنۍ پلار هم ټپیان شوی و، د ننګرهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له یادې کورنۍ سره د تسلیت ترڅنګ له هغې پر هر اړخیزه ملاتړ ټینګار وکړ.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر، کار پاک‌کاری نهر شونانوکځ را در ولسوالی ناری به گونه کامل به پایان رساند



به اساس هدایت مقام اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر، کار پاک‌کاری نهر شونانوکځ را از ریگ و گل‌ولای در ولسوالی ناری بتاریخ ۱۰ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق تکمیل نمود.
این عملیات به‌منظور جلوگیری از مسدود شدن مسیر عبور آب در هنگام سیلاب‌ها و پیشگیری از خسارات احتمالی انجام شده است تا جان، مال، زمین‌های زراعتی، تأسیسات عامه و منازلِ مسکونی باشندگان محل از خطرات احتمالی سیلاب‌ها مصوون بماند.
در جریان این روند، با استفاده از ماشینری اسکواتر، مجموعاً ۳۰ ساعت کار انجام شد که در نتیجه آن مسیر نهر به‌گونه کامل پاک سازی و راه عبور آب باز گردید.
همچنان، باشندگان محل از تلاش‌ها و همکاری‌های رئیس ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر، مولوی محمد مبین مفتون عمر و ناظر ساحوی عزت‌الله کریمی ابراز سپاس‌گزاری نموده و رضایت کامل خود را از این اقدامات وقایوی اعلام کردند و گفتند که چنین اقدامات نقش مؤثری در حل مشکلات آنان دارد.
مسئولین ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر اطمینان دادند که تطبیق چنین برنامه‌ها به‌منظور تأمین مصونیت مردم، جلوگیری از خسارات و تقویت آمادگی در برابر حوادث طبیعی ادامه خواهد یافت.

# برگزاری برنامه آموزشی یک‌روزه برای رضاکاران اداره در ولایت ننگرهار




یک برنامه آموزشی یک‌روزه ویژه رضاکاران اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث در ولایت ننگرهار در ریاست آمادگی مبارزه با حوادث آن ولایت ننگرهار بتاریخ ۱۰ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق برگزار گردید. این برنامه توسط نمایندگان اعزامی اداره مرکزی ارائه شد و تمرکز آن بر ارتقای ظرفیت رضاکاران و بهبود هماهنگی‌ها در زمان وقوع حوادث بود.
در این برنامه، جمعی از رضاکاران ولایت ننگرهار اشتراک داشتند و در مورد اصول و اهمیت رضاکاری، وظایف اساسی رضاکاران و چگونگی همکاری مؤثر با نهادهای مسئول در جریان حوادث، معلومات همه‌جانبه ارائه گردید.
مسئولین بر نقش کلیدی رضاکاران در کاهش پیامدهای حوادث طبیعی تأکید نموده و چنین برنامه‌های آموزشی را برای افزایش آمادگی، هماهنگی و پاسخ‌گویی مؤثر در شرایط اضطراری مهم و ضروری دانستند.

## عامه پیغامونه :

38. د یخنۍ او ګرمي څخه د ساتنې په موخه د خپلو څارویو لپاره لازم تدابیر ونیسئ ,ځکه چې له دې امله زرګونه څاروي تلف شوي دي
39. د پېښو له رامنځته کېدو مخکې، د خطرونو مخنیوی او کمول خورا آسانه او په کم لګښت ترسره کېږي
40. پېښځپلو ته په بیړه ځانونه ورسوئ، ترڅو د نورو احتمالي خطرونو مخنیوی وشي
41. د هوا پېژندنې ادارې وړاندوینې په پام کې ونیسئ ترڅو د پېښو له خطرونو څخه خوندي پاتې شۍ